

**يواځې د خلافت تاسيس د يمن ماشومان ژغورلی شي**

**خبر:**

يکشنبه د نومبر په ۳مه د منځني ختيځ او شمالي افريقا د ماشومانو لپاره د يونيسف سيمه‌ييز مشر گيرت کيپلاري(**Geert Cappelaere**) يمن دوزخ وباله. دی وايي: «د سعودي په مشرۍ ايتلاف او د حوثي ياغيانو د روانې وحشي جګړې په ترڅ کې د خوار ځواکۍ له امله هر کال ۳۰۰۰۰ ماشومان خپل ژوند له لاسه ورکوي. د ملګرو ملتونو د راپور له مخې د يمن نيمايي(۱.۸ ميليونه) تر ۵ کالو کم عمره ماشومان له تل پاتې خوار ځواکۍ څخه ځورېږي، په داسې حال کې چې ۴۰۰۰۰۰ ماشومان سخت خوار ځواکه شوي دي او دوی له درملنې پرته مري. د دې ترڅنګ تر يوه ميليون زياتې بار داره يا پۍ ورکوونکې ښځې د کم خونۍ په ناروغي اخته دي، چې دا د دوی پر ماشومانو اغېز کوي او په هرو لسو دقيقو کې يو ماشوم د معالجوي ناروغۍ او لوږې له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي. تېره مياشت د بشري چارو لپاره د ملګرو ملتونو د سر منشي مرستيال مارک لوکوک(**Mark Lowcook**) څرګنده کړه: «که جګړه دوام پيدا کړي، لوږه به د دريو مياشتو په ترڅ کې په ټول هيواد کې خوره شي، له ۱۲-۱۳ مېليونو خلکو پورې (د هيواد نيمايي وګړي) به د لوږې له خطر سره مخ وي. سه شنبه د نومبر په ٦مه، د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق (يونيسف) يوه بيانيه خپره کړه او خبرداری يې ورکړ، چې د حديده په ښار الثوره روغتون ته څېرمه سخته جګړه روانه ده - هغه روغتون ته څېرمه چې ګڼ شمېر د هغو ماشومانو درملنه

پکې کېږي چې د مرګ له ګوابښ سره مخ دي او د نورو خوار ځواکو او زيانمنو ماشومانو له ننوتلو څخه مخنيوی کوي.

**تبصره:**

د اوسني پانګوال نظم سترګې ړندې، غوږونه کاڼه دي او د بشريت پر ضد په ياد جرم کې شريک دی. دغو بوږنوونکو شمېرو او د خوارځواکو مړه شويو ماشومانو پرله پسې انځورونو د دوی وجدان ته کوم ټکان ور نه کړ. په حقيقت کې د امريکا او برتانيې ښکېلاکګر دولتونه په بې ننګۍ سره د يمن د ماشومانو پر ژوند باندې لوبې کوي، د خپلو سياسي او اقتصادي ګټو د لاسته راوړلو په موخه په ياده وحشي جګړه کې خپل ګوډاګيان په وسلو سمبالوي او استخباراتي معلومات ورته چمتو کوي.

په ورته وخت کې سعودي عربستان او نورو لاسپوڅو رژيمونو د وينه زبېښونکي ايتلاف له لارې د خپلو لوېديځو بادارانو په غوښتنه په ياده جګړه کې د اسلامي امت ماشومان حلال کړل. ټولې ښکېلې غاړې په دغه بې مانا جګړه کې د يمن د ماشومانو په وژنه کې لاس لري!

په ۲۱مه پېړۍ کې دا يوه ډېره کمزورې عقيده ده، چې د يوه دولت ټول نفوس او د هغوی ماشومان دې د لوږې له امله ژوند له لاسه ورکوي او د ټولې نړۍ په شتون کې دې دوی په بې رحمۍ سره بمبارېږي او هيڅ يو حکومت د هم د دوی د دفاع په موخه څه نه کوي. اوسنی نړيوال نظم دومره شوم او کرغېړن دی، چې د اوربند له خبرو سره سره بيا هم دواړې ښکېلې غاړې جګړې ته دوام ورکوي او هيڅ يو داسې ځواک پيدا نه شو چې دواړه لوري د يمن د بې ګناه مسلمانانو پر ضد جرمونو کې مسوول وګڼي.

نړيوالې ټولنې د يمن ماشومان يواځې پرېښودل، د اسلامي نړۍ جنايتکارو او نامشروع حکامو هم د يمن ماشومان يواځې پرېښودل... خو موږ امت دوی يواځې نه شو پرېښودلی، ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«الْمُسْلِمُ أَخُوْ الْمُسْلِمِ، لا يَظْلِمُهُ، وَلا يَخْذُلُهُ»**

«يو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه به پرې ظلم کوئ او نه به يې يواځې پرېږدئ»

د يوه مسلمان په توګه، موږ بايد په يمن کې د خپلو ورونو او خويندو د ټولوژنې موضوع ته جدي پاملرنه وکړو. له ملګرو ملتونو او دې ته ورته نور لوېديځو بنسټونه څخه بې ځايه تمې و نه لرو چې دوی به زموږ ستونزې حل کړي. دوی د يادو وحشي جرمونو اصلي عاملان دي، دوی اور ته تېل شيندي او سترګې پرې پټوي. د دې لپاره چې د مسلمانانو په توګه د يمن د مسلمانانو ستونزې حل کړو، بايد له خپل دين څخه حللاره واخلو. اسلام په حقيقت کې د يمن، سوريې، کشمير، ميانمار، فلسطين او نورو سيمو اوسېدونکو ناورين ته چې دوزخ ته ورته دی، د پای

ټکی ږدي. له اسلامي حللارې پرته به زموږ د ورونو او خویندو په حق کې لویه بې پروایي وشي او د دوی کړاو او ماتم به هم نور اوږد شي.

**اې مسلمانانو!** ایا دا د شک ځای دی، یوازینی مشرتابه چې د اسلام او اسلامي امت د ګټو استازیتوب کوي کولی شي چې د یمن ماشومان له ژوندۍ بلا څخه ژغوري، د دوی ساتنه وکړي او د ښه ژوند زمینه ورته برابره کړي؟ د یاد مشرتابه بنسټ اسلام دی، چې د همدغه بنسټ لپاره کار کوي او د نبوت پر طریقه د خلافت په اډانه کې د خپلو موخو ملاتړ کوي او خپلې اړتیاوې پوره کوي. دا هغه دولت دی چې الله سبحانه و تعالی ته ژمن دی، د خپلو ټولو اتباعو سني، شیعه، مسلمانو او غیرمسلمانو ساتونکی دی. د دوی لومړنۍ اړتیاوې پوره کوي، د دوی لپاره یو معیاري سرلوړی ژوند برابروي، له توپیر پرته د دوی د وینو، عزت او شتمنیو ساتنه کوي. ځکه، دا یو داسې سیاسي نظام دی چې ټول اتباع یې له عقیدې، نژاد، او ملت پرته برابر او د وګړیتوب له حقونو څخه برخمن دي. زموږ د یمن لویه تاریخي ښېرازي او اقتصادي وده په یاد ده، چې د اسلام دویم خلیفه عمر فاروق رضي الله عنه خپل استازی معاذ ابن جبل یمن ته ولېږه او هغه په یمن کې هیڅ یو داسې کس پیدا نه کړ چې راټول شوی زکات واخلي! خلافت یو خپلواک دولت دی. د بهرنیو ځواکونو له نفوذ پرته یې حاکم د خلکو چارې په خپلواکه توګه تنظیموي او په ریښتنې توګه د خلکو د ګټو ساتنه کوي. دا هغه دولت دی چې د مسلمانانو هره چاره د خپلو امکاناتو پر مټ ترسره کوي او د اسلام تر حاکمیت لاندې ټول مسلمانان سره وروڼه ګرځوي. موږ ولیدل چې څرنګه سني او شیعه مسلمانانو په یمن، عراق او نورو سیمو کې څنګ په څنګ په سوله کې له پېړیو راهیسې په ورته مسجدونو کې لمونځ کاوه او د خلافت په اډانه کې د اسلام د دښمنانو پر ضد ګډه جګړه کوله.

نو که موږ په ریښتینې توګه د یمن ماشومانو د ژوند ژغورل غواړو، نو باید ټولې هڅې د نبوت پر طریقه د خلافت پر تاسیسولو متمرکزې کړو.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکواله: ډاکتر نسرین نواز**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګې مشره**

**ژباړن: صدیق احمدزی**